# د خدائي خدمتګارانو تحريک

## ولې جاري شوے دے؟

باچا خان

زما خوږو پښتنو ورونړو! ما همېشه په خپلو تقريرونو کښې تاسو ته د خدائي خدمتګارۍ د تحريک اصلي مقاصد په واضحو لفظونو کښې بيان کړي دي. څۀ خبرې مې پټې پرېښې نۀ دي. ولې بيا هم کېدے شي چې زما ځنې ورونړه داسې هم وي چې هغوي ته زما د تقرير اورېدو موقع په لاس ورغلې نۀ وي يا ئې تقريرونه اورېدلي وي خو په مطلب ئې ښۀ پوه شوي نۀ وي او يا پوه شوي هم وي خو د اخوا دېخوا خبرو په اورېدو سره ئې په زړۀ کښې څۀ شکونه پېدا شوي وي. نو نن زۀ د خپل اخبار "پښتون" په ذريعه يو ځل بيا په صافو صافو لفظونو کښې د خپل جاري کړي تحريک خدائي خدمتګارۍ د نصب العين په حقله يو څو خبرې کول غواړم او په دې خبرو تاسو پوهول غواړم چې دا تحريک د څۀ غرض دپاره شروع شوے دے؟ فائده به ئې څۀ وي؟ او خبر به ئې چا ته وي؟

> ورونړو! خبره دا ده چې بېشکه ملک خو مو شته، ولې اختيار مو پکښې نشته، قام خو يو، خو غلامان يو، نعمتونه خو هر څۀ زمونږ په ملک کښې پېدا کېږي خو فائده ئې بل يو قام ته رسي، ملک زمونږ دے، مزې پرې نور کوي.

زما خوږو ورونړو! د خدائے پاک داسې يو نظام دے، د قدرت يو عام قانون دے چې د کوم وخت نه ئې دنيا پېدا کړې ده او د آدم عليه السلام اولاد ئې په دنيا کښې خور کړے دے نو د دنيا د بېلې بېلې حصې اوسېدونکي ئې په بېل بېل قام مشهور کړي دي او هر يو قام ته ئې د زمکې يوه حصه يا يو ملک ورکړے دے. دا څۀ دپاره؟ د دې دپاره چې هر يو قام پخپل ملک کښې اباد وي او د خپل ژوند ضروريات د هغې خپل ملک نه پوره کړي او هر يو قام د دغې خپل ملک اختيار مند او واکدار وي.

نو مونږ چې څۀ وخت د قدرت دې عامې قاعدې ته وکتل نو ومو ليدل چې په موجوده دنيا کښې څومره قامونه اوسي نو د هر يو قام ځان له يو ملک په قبضه کښې دے، هر يو قام د خپل ملک مالک دے، د هر يو ملک په حاصلات او آمدنۍ د



هغې خپل قام بال بچ اباد او خوشحال وي نو بیا چې مو خپل ملک ته وکتل او پښتون قام ته مو نظر وکړو نو حېران پاتې شو چې آخر څۀ وجه کېدے شي چې د شلمې پېړۍ په دې ترقۍ موندلې دنیا کښې پښتون قام لا هغسې بې علمه او جاهل دے، بې کسبه او بې هنر دے، بې وسه او بې کسه دے، خوار او ذلیل دے، بربنډ او اوږے دے، ولې مونږ قام نۀ یو، یا مونږ له خدائے ملک نۀ دے راکړے، مونږ خو وینو چې زمونږ ملک په دنیا کښې د زمکې یو ډېره اباده او بهترینه ټکړه ده، تاسو په خپله ورته نظر وکړئ، زمونږ ملک یو جنت نۀ دے؟ د دنیا کوم نعمتونه دي چې هغه په دې ملک کښې نۀ پېدا کېږي، کوم خیزونه دي چې هغه دلته نشته، نو سره د دې ټولو خبرو بیا پښتون تباه او برباد دے، ذلیل او خوار دے، بچي ئې بربنډ او وږي دي، اخر دا ولې؟ نو وروڼو! خبره دا ده چې بېشکه ملک خو مو شته، ولې اختیار مو پکښې نشته، قام خو یو، خو غلامان یو، نعمتونه خو هر څۀ زمونږ په ملک کښې پېدا کېږي خو فائده ئې بل یو قام ته رسي، ملک زمونږ دے، مزې پرې نور کوي.

دغه وجه ده چې د دنیا نور قامونه ترقي کوي او پښتون ورځ په ورځ د تباهۍ غار ته پرېوزي. دغه سبب دے چې پښتون وږے بربنډ او جاهل دے نو لنډه دا چې تر څو د دې خپل ملک اختیار د پښتون په لاس را نۀ شي، نو تر هغه وخته پښتون ترقي کولے نۀ شي. تر څو چې پښتون آزاد شوے نۀ وي، نو د دۀ حال ښۀ کېدے نۀ شي، تر څو چې پښتون د غلامۍ طوق له غاړې نه ایستے نۀ دے، پښتون د دنیا د نورو قومونو د سیالۍ لائق کېدے نۀ شي نو اوس په دې خبره غور کول پکار دي چې اخر دا ملک د پښتون د لاس نه ولې تلے دے او پښتون په څۀ خبره د نورو قومونو نه کمزورے دے، ولې د پښتون دوه لاسه دي، د نورو څلور دي؟ د پښتون یو سر دے، د نورو دوه دي؟ نا پښتون په هېڅ خبره د چا نه کم نۀ دے بلکې پښتون

پښتون په څۀ خبره د نورو قومونو نه کمزورے دے، ولې د پښتون دوه لاسه دي، د نورو څلور دي؟ د پښتون یو سر دے، د نورو دوه دي؟ نا پښتون په هېڅ خبره د چا نه کم نۀ دے بلکې پښتون د هر چا نه بهادر دے، ډېر زړور دے، اخلاص مند او مهمان نواز دے خو سره د دې صفتونو بیا ولې غلام دے؟

د هر چا نه بهادر دے، ډېر زړور دے، اخلاص مند او مهمان نواز دے خو سره د دې صفتونو بیا ولې غلام دے؟

نو ورونړو! تاسو ځان پوه کړئ، د دې نور هېڅ وجه نهٔ ده، صرف دا یوه وجه ده چې د پښتون کـــــــور وران دے، د پښتون اواز یو نهٔ دے، په دهٔ کښې پرې جنبې دي، په دهٔ کښې بدنیتی او تربګنی دي، په دهٔ کښې بُغض، کینې او خودغرضی دي، کهٔ دوه پېسې ذاتي فائده مومي نو نهٔ په قام څهٔکار لري، نهٔ ئې اسلام پکار وي، نهٔ دملک د فائدې څهٔ خیال ساتي، هر څهٔ دې په سیند لاهو شي، خو د دهٔ د پېسې فائده دې وشي، بیا هم عام پښتانهٔ دومره ګرم نهٔ دي، نهٔ غریب خلق دومره قصور وار دي، کهٔ څهٔ خرابي ده او نقصانونه دي نو په خاصو خاصو خلقو کښې دي، یعنې پوهه او تعلیمیافته خلق زیات د خودغرضی نه کار اخلي، بلکې زهٔ خو همېشه په تقریرونو کښې وایم چې غریب پښتون خو د ګډو یو ډېر ښهٔ کنډک دے، ولې افسوس دے چې شپون نهٔ لري، دا ګډې خو هر چا ته راغونډېږي په دې طمع چې دا به زمونږ شپون وي او مونږ به د شرمخانو نه بچ کوي ولې چا ته چې راغونډې شي، هم هغه دبډې نه چاړهٔ را وباسي، د دوي مرۍ پرېکړي.



لنډه دا چې څهٔ وخت مونږ د پښتنو په دې خراب حال نظر وکړو نو په دې نتیجه ورسیدو چې تر څو د پښتنو نه د دې خرابو خصلتونو د ایستو کوشش ونهٔ کړے شي، دا خودغرضی، بې اتفاقی، پرې جنبې او تربګنی د دهٔ نه ورکې نهٔ کړلې شي نو دے هر ګز ترقي کولے نهٔ شي او نهٔ د غېر قام د پنجې نه آزادي حاصلولې شي نو هم د دې مطلب د پوره کولو د پاره مونږ دیوې نوې ورورۍ او نوي عزیز دارۍ بنیاد کېښود او هغې ته مو نوم کېښود "د خدائي خدمتګارۍ تحریک" دا تحریک د اتو کالو نه مونږ شروع کړے دے، زمونږ دا کوشش دے چې د هر پښتون غوږ ته مونږ خپل اواز ورسوو او پښتانهٔ په دې کښې شامل کړو.

د دې نوي ورورۍ په ذریعه مونږ پښتون قام بیا یو کول غواړو، په دوي کښې بیا مینه او محبت

پېدا کول غواړو، دوي بيا په يو آواز روانول غواړو، زمونږ په دې نوي عزيزدارۍ کښې هر يو پښتون کۀ غريب دے کۀ امير دے، کۀ خان دے، کۀ ملک دے، کۀ ميا دے، کۀ ملا وي، هندو وي، کۀ مسلمان وي په يو شان شريکېدے شي. صرف په يو شرط سره چې د خدائي خدمتګارې اصول کوم چې مونږه ايښي دي وپېژني او په هغې روانېدو ته تيار وي. (بس)

(پښتون رساله 5 اپرېل **1938**)